لیکوونکی: مولانا ابو فاروق

# تنظیم او دعوت

ژباړونکی: شهید الله

# دعوت او تنظیم

د هر ډول دعوت لپاره تنظیم ډیر لوی اهمیت لري، د همدې لامله عقل وایي چې د اسلامي د دعوت لپاره هم نظم اوتنظیم ډیراړین، مهم او ضروري دی.

خو عجیبه اوحیرانونکې خبره داده چې زمونږ په ځینوکړیو او حلقو کې ددې حق دعوت لپاره د تنظیم اهمیت نه محسوسیږي. په دنیا کې چې د هرې نظریې لپاره دعوت اوبلنه چلول کیږي د هغې لپاره تنظیم هم جوړیږي خو د اسلامي دعوت لپاره چې کوم تنظیم جوړیږي ځنې کسان په هغې باندې خفګان او ناخوښي ښرګندوي او ځنې کسان بیا په دې تنظیم جوړولو باندی ګوت نیونه هم کوي.

ددې علت اولامل دا نه دی چې دا کسان پخپله د دعوتي کار مخالف دي او د اسلام خپریدل نه غواړي بلکه ددې ښاغلو په نظر

د اسلامي دعـوت سمه طريقـه داده چـې پـه دې ميـدان کـې کـوم کسان څه کاراوفعاليت سرته رسولی شي نو پـه يـواځې اوانفـرادي ډول دي سرته ورسوي ، په ځانله اوانفـرادي دعـوت ددې کسـانو هـېڅ اعـتراض نشـته ،خـو کـه د وخـت د حـالاتو او شرايطـو لـه غوښـتنې سره سـم څـه کسـان سره يـو ځـای شي او د اسـلام څـه خدمت کول و غواړي نوبيا هغوی دا خبره ښه نه ګڼـي چـې يـواځې پدې غرض او مقصد دې يو ځانګړی تنظيم جوړ شي چې د اسـلام د غلبې او اوچتوالي لپاره په لارو چاروفکراوغور وکړي او ددې کـار لپـاره کـوم مـنظم پروګـرام جـوړ او ددې پروګـرام سره سـم خلـک اوافراد په کار واچوي او دغه افراد داسـې فعاليت،منـډې تـرړې او کار وکړي لکه څرنګه چـې د دنيـا نـور سـازمانونه او تنظيمونـه يـې کوي.

څرنګه چې تاسې وينئ پدې ډله کې ځينـې داسـې کسـان هـم شته چې د زړه له اخلاصه غواړي چې کومې دروغ او غلطې خـبرې په اسلام پورې تپل شـوې دي هغـه روښـانه او اسـلام ښـه خپـور شي.

په دوی کې دداسې پوهانواوعلماؤکمبود او کمی هم نشته چـې په ډير کوښښ او زحمت سره د اسـلام پـه بـاره کـې تحقيقـات او

پلټنې کوي او د اسلام په مختلفو اړخونو باندې تحقيقي رسالې او مقالې ليکي او د اسلام د نظرياتو او اصولو د صحيح ثابتولو لپاره خپل غوره استعدادونه اوځواکونه پکاراچوي.

په غېر اسلامي نظرياتو باندې تنقيدونه کوي ، د غير اسلامي مفکورو دغلطيوپه ډاگيزه کولو کې تر ټولو وړاندې او مخکښ وي، همدارنگه هغه کسان چې ددوی له ذوق او فکر سره سم د اسلام خدمت سرته رسوي د هغوی ترغيب او تشويق هم کوي، او د خپل توان په کچه ددې کسانو د کومک او همکارئ څخه هم ډډه نه کوي. خو که د اسلام خدمت کومه ډله ياجماعت په ډله ايزه توگه کوي نو بيا ددوی ټول کار او فعاليت غلط بلل کېږي اود دې کار او فعاليت له فعالينو سره هېڅ کومک ،مرسته او تعاون نه کوي. يعنې دا چې ددوی په فکر او نظر د اسلام خدمت په انفرادي او شخصي۔ توگه سم او صحيح دی خو که دهغوی استعداد،توان اواهليت سره يوځای شي او د اسلام لپاره په کار واچول شي نو دا ورته سمه نه ښکاري. که چېرې د دوی څخه ددې کړنلارې او فکر په باره کې پوښتنه وشي او شرعي دليل ورڅخه وغوښتل شي شايد چې همدا يو ځواب ورکړي:

د اسلامي دعـوت لپـاره د تنظـيم جوړولـو پروګـرام پـه قـرآن ، حديث ، په اسلامي لومړنيـو پيړيـو او يـا د خلفـاء راشـدينوپه دوره کې ثبوت نلري.

که د وخت د ضرورت او اړتيا په بنياد ورته د تنظيم جوړولـو پـه اهميت څه دلايل وړاندې شي نو بيا دا کسان وائي چې سـتا ذهـن د غير اسلامي تحريکونو څخه متاثر شويدی، نن سبا د هر ډول دعوت او بلنې لپاره د تنظيم په جوړولو فکر کېږي خو د هغوی ذهن دا خبره نه مني چې په تنظيم باندې بـه د اسـلام څـه کـاروشي يـا بـه سرتـه ورسيږي.

زمونږ له نظره په عقلي لحاظ دا فکـر بيخـي غلـط دی چـې پـه قرآن ، حديث او د تاريخ په کتابونو کې ددې خبرې کوم ثبـوت نـه شته. په اوسني وخت کې چـې تحريکونـه تنظـيم جـوړول ضروري او مهم ګڼي نو ددې څخه دا نه ثابتيږي چې اسلام ګڼې د فعاليت لپـاره د تنظـيم جوړولـو مخـالف وو . داسـې هـم کېـدای شي او حقيقت هم همدادی که دعوت د اسلام وي او که دکفر خو تنظـيم جوړول د دواړو لپاره اړين او ضروري دي او پرتـه لـه تنظـيم څخـه يو تحريک او نظريه هم د کاميابئ پړاو ته نشي رسيدلای.

لکه څرنګه چې انسان د تګ لپاره پښو ته محتاج اوارٍ دی او د کار کولو لپاره لاسونو ته ، له دې څخه زیات دعوت د خپلې کامیابۍ لپاره تنظیم ته محتاج اوارٍ دی.

په دنیا کې ډول ډول نظریات او مفکورې شته چې له هغو څخه یې ځېنو نظریو او مفکورو لوی لوی انقلابونه او بدلونونه راوستل. د دنیا په تاریخ کې هېڅ داسې نه دي شوي چې انقلاب یا بدلون دې دغو تیتو پرکو او غیر منظمو خلکو د کامیابۍ پړاو ته رسولی وي .که چېرې تاسې د مختلفو نظریو د پېل او پرمختیا ارزونه وکړۍ نودابه درته معلومه شي چې لومړی نظریات د افرادو په ذهن او فکر کې پېداکېږي او دغه افراد بیا خلکو ته ددې نظریاتو دعوت ورکوي ،کله چې څه خلک ددې فکر سره ملګرتیا وکړي نو د افرادوفکر،کړه وړه او شخصیت په تنظیم کې مدغم اوجذب شي او خپل ټول قوت او استعداد ددغه تنظیم د ترقۍ لپاره پکار اچوي،پدې توګه تنظیم ترقي کوي او خلکو ته ګران اومنلئ شي ،بیا ډله ډله خلک په دې تنظیم کې شاملیږي او ددې تنظیم مخالف نظریات کمزورې او ضعیف کېږي.

له دې څخه وروسته په مخالفو نظریاتو د برلاسۍ کوښښ کوي او که چېرې د دعوت تر شا دغه شان قوي،ځواکمن اوغښتلې تنظیم نه وي نو بیا ددې تحریک د بلونکو آواز په فضا

کې تيت پرک ، ورک، ختم او د وخت پـه نظريـاتو او فکرونـو هېڅ اثـر نـه غورځـوي. دا يـو تـاريخي حقيقـت دی چـې کـه د بـاطلو او غلطو نظرياتو د پرمختيا او ترقۍ لپاره هـم مـنظم کوښـښ اوهلـې ځلې و شي نو کاميابيږي . کله کله برحق نظر او فکـر لـه دې املـه د کاميابۍ پړاو ته نه رسيږي چې منظم، غوره اوغښتلې تنظيم تـر شا نلري.

د يو دعوت د بري لپاره دا اړينه ده چې هر وخت هغه کوم کـار کول وغواړي بايد ويې کـړی شي ، کـه کـوم پروګـرام عملـې کـوي بايد عملې يې کړي ، که کوم وسايل او امکانـات ددوی پـه اختيـار کې وي بايد چې د هغې په غوره اوښه استعمال باندې پوه وي، له دوی سره بايـددومره تـوان او طاقـت هـم وي چـې د علـم، ادب ،فرهنـګ،کلتور ، حکومـت او سياسـت مخـه اولاره بدلـه کـړي او دوې ددې وړتيا ولري چې مخـالف نظـام خـتم او د هغـې پـه ځـاې خپل نظام جوړ کړي.

دايـومنلې شـوې حقيقـت دی چـې دومـره لـوې کارونـه سرتـه رسول ديوه تن په توان کـې نشـته او نـه پيـدا کېـدای شي، د يـوه تن په توان کې د هر ډول کار کولو استعداد نـه وي بلکـه د دوه يـا

ځو کارونو استعداد دانسان سره وي خو د يو ښه او غوره تنظيم لپاره دا ټول امکانات موجود وي او هغو ته اړتياهم ده.

داوبو د يوه ځاځکي ځخه سيلاب نه جوړيږي بلکه داوبواوباران يويوځاځکي سره يو ځاى کيږي ،د درياب شکل جوړوي او د ځمکې سينه ځيروي، ځنګلونه پرې کوي اومخ په وړاندې ځي.

همدارنګه د يونفراستعداد اوتوان محدود وي خو چې کله په تنظيم کې ډيرنفراومختلف استعدادونه سره يوځاى شي نو داسې يوځواکمن تنظيم ور ځخه جوړشي چې مخالف نظريات له بيخه وباسې او د حق د نظرياتو نوې دنيا جوړوي.

ځکه چې د تنظيم په داخل کې د مختلفو استعدادونو افراد ډير موجود وي، د يو کار لپاره چې د کوم استعداد خاوندفرد پکار وي همغه استخداميږي. کېداى شي چې په کوم ځاى يا حوزه کې د يوه فرد ټاکل بس نه وي نوهلته ديوه فرد پر ځاى ځو تنه هم ټاکل کيږي.

په حقيقت کې کوم کسان چې د اسلامي دعوت لپاره د تنظيم جوړولو مخالف دي هغوى په دې نه پوهيږي چې يو دعوت په

کومه طريقه کاميابيږي او ددې نظريې د ترقئ لپاره د کومې طريقې غوره کولو ته اړتيا ده.

ځنې خلک د اسلامي دعوت لپاره د تنظيم جوړول غلط نه ګڼې بلکه د هغې اهميت هم مني خو له دې سره سره په داسې تنظيم کې ځان نه شاملوي چې ددعوت کارکوي.

ددې انفراديت او يواځيتوب لپاره له دوی سره څه عذرونه دی چې داعذرونه هم ډېر کمزوري دي. که يو معقول انسان وغواړي چې د اسلام خدمت وکړي د دعوت لپاره له منظم کوښښ څخه نشي خلاصيدلا ی.

مونږ غواړو چې ددې کسانو په عذرونو رڼا واچوو او خبرې ورباندې وکړو.

۱- کله کله وايي چې بيشکه د دعوت لپاره د تنظيم جوړول ډير ضروري دي خو په اوسنيو شرايطو او حالاتو کې د تنظيم جوړولو فايده کمه او نقصان يې ډير دی ځکه چې مونږ په داسې چاپيريال او محيط کې اوسيږو چې د غير اسلامي نظريې حکومت واکمن دی او داسلام مخالفې ولولې او احساسات يې په ډيرقوت سره روزلي دي، په دغسې محيط او چاپيريال کې د اسلامي دعوت دعاملو،خپرولواوداسلام دبرلا سی لپاره د منظم کوښښ

کولو معنا داده چې واکمن ټولي به د دین کارکونکې خپل دښمنان وګڼي او ددې خطر شته چې واکمنان به دوی له میدان څخه ورک او ختم کړي.له دغه خطر څخه دخوندي کېدو لپاره اړینه ده چې هر سړی فردي مسئولیت پوره کړي او دغه ځانله اوانفرادي کوښښ په داسې منظم کوښښ بدل نشي چې د وخت له واکمنانو سره ټکر پیښ شي ،د حکمت او پوهې غوښتنه داده چې داسې طریقه غوره شي چې پرله پسې وچلیږي او داسې طریقه او پالیسي اختیار نه شي چې له یوه پلوه دعوتي نظام ختم شي.

ددې په ځواب کې داسې ویل کېدای شي که د اسلامي دعوت لپاره د تنظیم جوړول ضروري وي او د تنظیم د جوړولو نه پرته د اسلام حق نه اداء کېږي نو باید چې حتماً تنظیم جوړ شي که حالات او شرایط برابر وي او که حالات او شرایط برابر نه وي.

دا خبره سمه نه ده چې د منظم دعوت مخالفت کېږي او د غیر منظم او انفرادي دعوت مخالفت نه کېږي، ځکه چې اسلامي دعوت یوانقلابي دعوت اوبلنه ده، او دا ددې خبرې اعلان دی چې د الله جل جلاله په ځمکه کې د الله جل جلاله نظام باید حاکم وي او د الله جل جلاله څخه پرته د بل چا نظام په دې ځمکه باندې جایز نه دی.

هر وخت چې ددعوت خبره کېږي، که ددې خبرې کوونکی يو تن وي او که لوې جماعت، خو د وخت حاکمان دا کسان خپل مخالفين او باغيان ګڼي او له دوی سره به هغه څه کوي کوم چې د باغيانو او مخالفينو سره کېږي، تاسې داسې وخت ، ځای او هيواد نشئ ښودلی چې هلته د اسلام دعوت پيل شوی وي او واکمنانو ددعوت هرکلی کړی اوسملاسي يې منلی وي، په دې اسلامي دعوت کې امتحان او ازميښت وي، ددې کار د کولو حوصله هغه څوک لري چې د وخت د حاکمانو او واکمنانو زياتئ او تيرئ وزغملی شي، بې همته خلک پدې لاره کې دوه قدمه هم نشي اخيستلای.

۲- دوهم عذر يې دادی چې زمونږ په عمل کې دومره خامي او غلطي ده چې زمونږ عضويت او شموليت په داسې تنظيم کې مناسب ندی چې د اسلام د مقدس دين د دعوت کار کوي. لومړی بايد خپله غلطي اصلاح کړو بيا په دې تنظيم کې ځان شامل کړو ،ددې عذر وړاندې کوونکو ته دا وايو که چېرې ستاسې غلطي په داسې کچه وي چې په يوه اسلامي تنظيم کې د داخليدو مستحق نه ياست نو که په تنظيم کې شامل ياستئ يا ځانله اوسيږئ نو بايد سمدستي خپله غلطي اصلاح کړئ ځکه چې ددومره غټو

غلطيو سره سره تاسې ته بې پروا، بې غمه او پـه ډيراطمنـان سره شـپې او ورځـې تـيرول مناسـب نـه دي، ددې پـه ځـواب کـې ځنـې کسان وايي چې مـوږ پخپلوغلطيـو پـوهيږو او مـونږ ددې غلطيـو د اصلاح څخه بې پروا نه يـو خـو مـونږ وينـو چـې ډيـره مـوده وشـوه ددې کسانو پـه ژونـد کـې هـېڅ بـدلون رانغـی. داسـې خلـک دخپلـو غلطيو او کمزوريو د عذر په بنسټ ټول عمر د اسلام د خدمت څخـه محروم پاتې شول، ددې مطلب خو دادې چې دداسـې کسـانو سره د خپلو کمزوريو او غلطيو د اصلاح احساس نشته ،که چيـرې د خپلـې غلطۍ ښه احساس ورسره وې نو هېڅ ممکن نه ده چې يو کـس دې د خپلې کمزورۍ او غلطۍ د پوهيدلوسره سره په هغـې بانـدې کلـک پاتې شي.

۳-دريم عذر دا بيانوي چې کوم کسان په کوم اسـلامي تنظـيم کې شامل دي او د الله جل جلاله بنده ګان د دين او اسـلام لـوري ته رابولي په دغو کسانو کې تقوی،د الله جل جلاله ويره،ديني لوړ اخلاق،ددين سره محبت، او د اسلام لپاره فداکاري او قربـاني.... او داسـې نـور صـفتونه نشـته . پـه اوس وخـت کـې داسـې تنظـيم نشته چې دغه پورتني صفتونه پکې ۱۰۰% موجود وي.

زمونږ په نظر دا فکر هم غلط دي ځکه چې د الله جل جلاله په فضل او کرم سره په ټوله دنيا کې مختلف تنظيمونه او سازمانونه په ښه توګه د اسلام په خدمت کې بوخت دي.

ددغه تنظيمونو د افرادو د رويې او سلوک په هکله که څوک پرته له کوم دليل څخه بدګماني ونه کړي نو وبه ويني چې ددې تنظيمونو په افرادو کې څه نا څه هغه صفتونه چې د اسلامي دعوت لپاره مناسب دي شته دي، که څوک له اسلامي دعوت سره کار کول وغواړي نو د هغه لپاره ښه طريقه داده چې هغه په خپل نږدې چاپيريال کې وګوري او معلومات حاصل کړي، که چېري په دغه نږدې چاپيريال کې کوم تنظيم ددين او اسلام لپاره کار کوي نو هغه بايد سمدستي په دغه تنظيم کې داخل شي،په هغه وخت کې دا شخص ددې تنظيم څخه جدا پاتي کېداي شي چې په دې اسلامي تنظيم کې داسې خرابي او غلطي موجودې وي چې ددغو غلطيو پر بنسټ دا تنظيم د اسلامي دعوت د کار کولو جوګه نه وي .خوکه چېرې وړې وړې غلطي موجودې هم وي نو د مؤمن شان دا نه دي چې وړي وړي خامی او غلطي رسوا کړي او تنظيم کمزوري کړي او نه د مؤمن شان دادی چې د داسې تنظيم څخه ځان جدا وساتي.

دده لپاره ښهٔ لاره داده چې په دې تنظیم کې ځان شامل کړي او ورو ورو د هغو وړو وړو غلطیو د اصلاح کوښښ وکړي. دا هم منو چې تاسې چېرته اوسیږي هلته او بلکه په ټوله دنیا کې داسې یو تنظیم چې خالص اسلامي ورته وویل شي ۱۰۰% اسلامي وي نه پیدا کېږي. ددې له امله چې د الله جل جلاله له لوري په تاسې د اسلامي دعوت په هکله د ټولنیز کوښښ په لړ کې کوم مسئولیت پریوزي نه پوره کېږي.نو پدې وخت کې دوه کارونه کول ضروري ګڼل کېږي:

لومړې داچې د یوه سوچه اسلامي تنظیم جوړول او داسې طریقه اختیارول چې اسلامي اصول په کې په کامله توګه عملي شي.

دوهم دا چې سوچه اسلامي تنظیم په اسلامي اصولو ولاړ پیدا شي چې په دغه تنظیم کې داخلیدل او اسلامي دعوت چلول په ټولو باندې لازم دي، څرنګه چې اسلامي دعوت چلول فرض دي نو ددېني اسلامي دعوت لپاره وسایل، امکانات او شرایط برابرول هم فرض دي.

همدا هغه طریقه ده چې په قرآن او حدیث کې یې تائید شویدي لکه چې تاسې وینئ په قرآن او حدیث کې مسلمانانو ته

**په څرګندوټکو کې د وحدت او نظم برابرولو حکم او د اختلاف او بیلتون څخه منع شویده لکه چې قرانکریم فرمایي:**

**وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ** [آل عمران: ١٠٣]

**ټول په شریکه د الله جل جلاله په رسۍ منګولي ولګوئ او ځانله ځانله مه کېږئ. ددې موضوع په هکله ډېر احادیث هم شته مونږ صرف د یوه حدیث په لیکلو بسنه کوو رسول اللهﷺ فرمایلي دي:**

عَلَيْكُمْ بِالْجَمَاعَةِ وَإِيَّاكُمْ وَالْفُرْقَةَ.(رواه ترمذي عن ابن عمر)

لازم دي پر تاسې یوځای اوسیدل او د اختلاف او بیلتون څخه ځان ساتل.

د قرآن او حدیث په رڼا کې دا حقیقت مخې ته ونیسئ چې اسلامي دعوت هغه شي دی چې مسلمان د کفر او مشرک د داعیانو له دعوت څخه ژغوري،د کفر داعیان ګمراهي او ضلالت ته خلک

رابـولي او داسـلام داعیـان خلـک د کفـر او شرک،ضـلالت او گمراهـي څخه خلاصوي او داسلام رڼا ته یي رابولي دغه دوه خبرې په نظر کـې ونیسئ او پدي پوښتنې هم فکر وکړئ.

**آیا د اسلامي دعوت سمه او صحیح طریقه کومه یوه ده؟**

آیا د قرآن او حدیث له مخې دغه دعوت ورکـول د هـر سـړي خپـل کـار دي او کـه ددې دعـوت لپـاره یـو مـنظم کوښـښ ضروري او اړیـن دي؟ ددې ځواب شاید یو وي او هغه دا چې د اسلامي دعـوت لپـاره د نظم جـوړول حتمـي او ضروري دی ځکـه چـې مسـلمانانو تـه د نظـم د جوړولو حکم شویدي دا ددې لپاره چـې ددوی او د نـورو خلکـو تـرمنځ جداوالي او بیلتـون راشي او دا هـم څرگنـده شي چـې ددې کسـانو څـه جلا او بیل حیثیت دي او دوی ولي د هر چا څخه جلا خپـل انفرادیـت ساتي، که چیري ددوی د تنظیم قوت ددې عظیم کار لپـاره نـه وي نـو د څه لپاره به وي؟ او دا هم ممکنه نه ده چې د کفر او شرک لپاره دې خلک منظم وي او جنگیږي دې. او داسلام داعیان دې تیـت او پـرک او د اتفـاق او وحـدت حکـم او پیغـام دې دوی تـه نـه وي. قرآنکـریم صاف او څرگند فرمایلي دي:

څرنګه چې دکفر او شرک منونکي او بلونکي یو ځای ستاسې مقابله کول غواړي نو تاسې هم د هغوی په مقابل کې یو موټی او منظم شئ، او ورسره وجنګیږئ.

**إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ ۚ فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنفُسَكُمْ ۚ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ** [التوبة: ٣٦]

تاسې اي مومنانو! د مشرکانو سره په یوموټی وجنګیږئ لکه څنګه چې هغوی له تاسې سره په یوموټې ډول جنګیږي.

د قرآن او حدیثو د څخه چې موږ ته کوم مطلب روښانه کېږي هغه دادی چې مسلمانان باید د اسلامي دعوت لپاره یو موټی او منظم وي. که چېرې مسلمانان د دعوت کار کوي خو منظم او متحد نه وي نو ددوی دا دعوت هېڅکله هم په هغه طریقه او اصولو چې قرآن او حدیثو بیان کړیدي بنا نه دی خو که چېرې دوی منظم اویوموټې وي او د اسلام لپاره دعوتي کار نه کوي نو بیا به دوی په نورو دعوتونو کې مصروف وي اودا به بیا هغه تنظیم نه بلل کېږي چې الله جل

جلاله او رسول اللهﷺ يې تائيد کړيدي. دا خبره موږته د قرآنکريم په دې آيت کې واضح کېږي.

**كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ۗ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُم ۚ مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ** [ آل عمران: ١١٠ ]

تاسې غوره اوبهتر امت ياست چې د خلکو لپاره ويستلي شوي ياست ، خلک نيکو کارونو ته راوبولۍ او له بدو کارونو څخه يې منع کړئ او د الله جل جلاله په ذات ايمان ولرئ.

**وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا ۗ وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ ۚ وَإِن كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ ۗ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ** [البقرة: ١٤٣]

همدارنگه تاسې ما بهترين امت (وسط امت) گرځولي ياست ددې لپاره چې په خلکو د الله جل جلاله د دين گواهي ورکړئ او پيغمبرﷺ په تاسې گواهي ورکړي.

ددې آیاتونو څخه معلومیږي چې مسلمانان ټول یو امت دي او داسې امت چې مخکې آیت کې ورته خیر امت ویل شوي او په دوهم آیت کې ورته وسط امت ویل شویدي.

د امت اصطلاح دا ښکاره کوي چې مسلمانان ټول په یوه کړۍ اودایره کې رابند دي او ددوی ژوند منظم ټولنیز ژوند دی ځکه چې امت تیت او پرک او ګډوډ وډو خلکو ته نه ویل کیږي بلکه د امت اصطلاح داسې ډلې ته ویل کیږي چې د یو معلوم مقصد په خاطر په یوه مرکزیت کې راټول وي.

د قرآنکریم په وینا چې دا غوره او معتدل امت د کوم مقصد لپاره الله جل جلاله پیدا کړیدی هغه مقصد دادی چې تل ددې امت افراد خلکو ته د معروفو ( نیکو) دعوت ورکوي او د ناروا(منکراتو) څخه به یې منع کوي، په دې خلکو به د الله جل جلاله د دین ګواهي ورکوي چې دا ګواهي مونږه په ساده ټکوکې د اسلام په دعوت تعبیرؤ:

د اسلامي دعوت لپاره د یوه امت پیدا کول ددې دلیل دی چې دا کار تنظیم ته ضرورت اواړتیالري،یو تنظیم هغه وخت د یو مقصد لپاره جوړیږي کله چې ددغه مقصد د پوره کېدلو لپاره تنظیم ضروري او اړین وبلل شي، کله چې یو کار په انفرادي او یوازې توګه سرته رسیدلی شي د هغه لپاره د تنظیم هېڅ ضرورت نشته، دې نه وروسته که یو سړي د

اسلامي دعوت لپاره د تنظیم جوړیدلو مخالفت کوي دابایدثابته کړي چې ددې کار لپاره څرنګه دا امت جوړ او منتخب شویدی اوولی په انفرادي او یوازې توګه خلکو ته د دعوت حکم نه دی شوی.

اوس وګورئ چې حضرت محمدﷺ د اسلام د دعوت کار څرنګه سرته رسولی او ددې کار لپاره یې کومه لاره او پالیسي غوره کړې وه. ددې دعوت لپاره یواځې هغه طریقه صحیح اوسمه ده کومه چې محمدﷺ غوره کړې وه.

د تاریخ له لوستلو څخه چې مونږ او تاسې ته کومه لاره را معلومیږي هغه داده چې یولوري ته محمدﷺ خلکو ته د اسلام دعوت وړاندې کاوه بل لوري ته چې کومو کسانو دا دعوت قبلولو له هغوی څخه یې یو متحد، متفق او یو موټي امت جوړاوه، څومره چې به دا دعوت خپریده په هغه اندازه به د امت د پراخه کېدو دایره هم لویدله.

لومړې ددې دعوت پوسیله د ګوتو په شمار کسان په امت کې داخل شول خو چې کله پیغمبرﷺ وفات کېده نو په لکونو خلک ددې امت غړي جوړشوي وو.

دا امت په قومي،نسلي،علاقایي او ژبني بنسټونو باندې نه دي جوړ شوی بلکه دا امت په دې ډول جوړ شویدی چې کوم کسان د حق دعوت قبول کړي هغه بیا ددې امت افراداوغړي وګرځي.

که هغه غلام وي او که آزاد،قریش وي او که غیر قریش،عجمـي وي او که عربي، ایراني وي او که حبشي.

نن سبا چې کومې ډلې یا سازمانونه په کومو اصولو او طریقو جـوړ شویدي اسلامي امت په هغه طریقه باندې نـه دي جـوړ شـوی، ځینـي کسان داسې فکر کوي چې دې امت ته جماعت یـا امـت ویـل صـحیح خبره نه ده،خو ددوی له خبرې څخه دا څرګندیږي چې دا کسان اصلاً د تنظیم له حقیقت څخه خبر نه دي .

په دې کې هیڅ شک نشته چې محمدﷺ کوم امـت جـوړ کـړی پـه هغې کې د افرادو د شاملیدو لپاره کوم فـیس نـه دي ټاکـل شـوی ،نـه ددې امت د عضوي اوغړي پـه حیـث کومـه فورمـه ډکـول کېـږي اونـه کوم خاص لباس ددې امت د افرادو لپـاره شـته. پـدې ډول پـه عـادي خبرو باندې سړی نه شي ویلی چې دا امت یو غیر منظم او تیـت پـرک تنظیم دی او ددې خبرو د تنظیم له حقیقت سره تړاو نشته بلکـې ددې څخه پرته هم یو ښه تنظیم جوړیدلی شي.

افراد او کسان په دوه طریقو سره تنظمیږي:

۱-هدف (موخه) ۲-قیادت

خلک د هدف په چاپیریال راټولیږي او د قیادت پـه حکـم د هـدف په لوري کار کوي.

که چېرې هدف معلوم نه وي نو د مختلفو کسانو ترمنځ کومه ګډه او مشترکه وجه نشته چې تنظيم ورڅخه جوړ شي، او که قيادت نه وي نو بيا په تنظيم کې خوځښت او حرکت نه وي بلکه سکون به وي چې د هيڅ ډول انقلاب او بدلون راوستلوتوان اواستعداد به نه لري، د محمدﷺ امت د اسلامي دعوت لپاره جوړ شويدی، پخپله محمدﷺ ددې امت قيادت او رهنمائي کړی او هغه څوک به په دې امت کې شامليدل چې د زړه له اخلاصه به يې په دې اعتراف کاوه چې محمدﷺ د الله جل جلاله رسول دي او په ټولو کارونو کې د همده اتباع لازمه ده، په همدي خاطر داسې امت جوړاو تيارشو چې د امت ټول افراد د محمدﷺ په قيادت کې را ټول شول او د هغه په هره فيصله او خبره به يې عمل کاوه، ددې خلکو د اسلام سره زيات محبت اومينه وه، د اسلام د تبليغ سره يې ښه شوق درلود او ددې دين د غالبولو،برلاسئ او خپريدلو ورسره ژور احساس ؤ.دسرښندنې،ايثاراو قرباني ورسره پوره جذبه وه، د نظم ،دسپلين، سمع او اطاعت ورسره قوي فکر ؤ، بلکه ټول هغه صفات او خصوصيات د امت په افرادو کې موجود ؤ کوم صفتونه او خصوصيات چې د امت يا تنظيم د افرادو لپاره پکار اوارين وی او ددغو صفتونو په خاطر اسلامي امت د يوه جسداوبدن په حيث وپيژندل شواوپه دوی کې يې هغه زيات يوالی او اتحاد ټينګ کړ چې د دنيا په تنظيمونو کې ليدل کېږي.

ددې امت هر فرد هغه کار سرته رسولو چې امت به غوښته او امت به هم هغه کار سرته رساوه چې فرد به غوښته،هېڅ يو تاريخ پوه هم له دې حقيقت څخه انکار نشي۔ کولای چې محمدی امت د اسلامي دعوت د کاميابيدلولپاره خپل ټول توان او ځواک په کاروا‌چولواوخپل غوره مال يي پدی لاره کې خرڅ کړ.او ددې امت هر فرد په پوره ډول د دعوت په کار کې مصروف ؤ،او په هر چاکې چې ددې دعوت د کومې غوښتنې د پوره کولو صلاحيت او استعداد ؤ نو سمدستي به يې هغه غوښتنه او مطالبه پوره کوله.

يو ځل مال ته اړتيا پېښه شوه، پيغمبرﷺ د مال غوښتنه وکړه يوصحابي سمدستي نيمايي مال راوړ او يو تن د خپل کور ټول مال او سامان د پيغمبرﷺ په وړاندی حاضرکړ.

يوځلې يوه يو تن د ټولو مجاهدينو د لښکرلپاره د جنگ سامان وړاندی کړ د امت دافرادو سره چې څه مال او دولت په اختيار کې ؤ هغه به يي د الله جل جلاله د رضا لپاره د خپل اسلامي قايد(محمد مصطفيﷺ) په حکم مصرفولو.

او څوک چې غريب او بی وزلي وه هغوې به ددې غم او فکر په خاطرژړل چې دوی د الله جل جلاله په لاره کې د مصرف لپاره مالي توان نلري. او ددې قايد او مشر۔ په آواز او حکم باندې د امت

مسلمانانو د فصلونو،خوړو اولادونو ، بيبيانو او كاروبارونو هېڅ پـروا نـه كوله او د جنگ ميدان ته به داسې ورتلـل لكـه چـې ددغـو شـيانو سره هېڅ اړيكې نلري.ددې امت هر فرد د دعوت سره دومـره زيـات محبـت درلود چې هرچا به دا دعوت قبلولو او محبـت يـې ورسره كولـو هغـه بـه دده دوست ؤ او چې چا به دا دعوت نه منلو هغه به دده دښـمن ؤ، كـه نږدې خپلوانو به ددې دعوت مخالفت كاوه نو د امت هر فرد بـه ددغـو خپلوانوپه خلاف په صف كې ولاړ او جنگ بـه يـې ورسره كـاوه. او كـه شخصي دښمن به يې دا دعوت قبول كړ **نو هغه به يـې خپـل ملگـري گاڼه او خپلې سينې تـه بـه يـې رانـږدې كـاوه. مطلـب دا چـې ددې امت افرادو هغه څه وكړل چې ددې دعوت لپاره يي بله انساني ډله كولاى شي،لويې قرباني يې وركړي،د شپې خوب يې پرځان حـرام كړ، ورځنې كارونـه او تجارتونـه يـې پريښـودل،ان چـې بدنونـه او ځانونه ورځخه وغوښتل شول نو ځانونـه يـې هـم وړانـدې كـړل. د مال غوښتنه ورځخه وشوه نو مال يې وړاندې كړ،ان چې د حـالاتو او شرايطوسره سم چې كوم ضرورت او غوښتنه وه همغه غوښـتنه بـه صـحابه كرامـو رضـى اللـه عـنم سمدسـتي پـوره كولـه، يعنـې د پيغمبرﷺ د فرمان او حكم سره سم يې هر قسم مرسته او كومـک ددې دعوت سره وكړ، ته به وايي چې مخكـې مخكـې ددې كومـک او تعاون لپاره دوى تياراوروزل شوي وو.**

د اطاعت او سمع په هکله يې دا حال ؤ چې د محمدﷺ له لوري چې د امت هر فرد ته کوم حکم کېده نو هغه به يې په پوره کولو کې بيړه کوله، حضرت محمدﷺ چې ورته د هجرت حکم وکړ نو هغوی ته د وطن پريښودل هېڅ گران نه وو، که د خاندان ، کورنی اوقوم پريښودلو حکم ورته وشونو په ډيره خوشحالی سره به يې منلو. او چې د صبر حکم به ورته وشو نو صبر ورته ډير آسان ؤ او که د جهاد حکم به ورته وشو نود سر قلم کول او پرې کول ورته فخر ښکاريده.

د اطاعت او خبرو منلو داسې ولوله ورسره وه چې هېڅ تنظيم يې نه مخکې مثال ښودلي شي او نه وروسته،دې امت د محمدﷺ په قيادت کې شپه او ورځ پرله پسې کوښښ وکړ نو ځکه اسلامي امت غالب او کامياب شو.

اوس تاسې ووایاست چې آيا دا ټول پرته له تنظيم څخه وشول؟ که چېرې دا ټول د تنظيم څخه پرته شوي وي نو بيا خو هېڅ تنظيم په دنيا کې نشته او نه به جوړ شي چې داسې کارونه خپله کېږي.

ددعوت د کاميابۍ مفهوم يواځې دا نه دی چې مخالف نظريات او قوتونه ضعيف او خپله واکمن شي. بلکه د يو دعوت د کاميابي

**لپاره اړینه ده چې د کامیابي نه وروسته په خپلو اصولو باندې کلک ولاړاوسي. دا هغه وخت کېږي چې په تنظیم کې داسې کسان وي چې د واک او اختیار په نشه کې خپل نظریات او مسئولیت هیر نه کړي** ،په خفگان او خوشحالئ کې، په تکلیف او راحت کې، په هر حال کې په خپل نظر او پالیسیو ثابت ولاړ وي.او دا هم ورته معلومه وي چې په ټوله دنیا کې چې کوم د فکر او نظریې نظام واکمن دی هغه دده د فکر او عمل څخه غوره نه دی او په دې خبره دده پوره یقین وي چې دا په حقه دی او ددې حق نافذول او قایمول په ده باندې فرض او لازم دي.

**که چېرې داډول افراد په کوم تنظیم کې موجود نه وي نو د سیاسي بدلون او انقلاب نه وروسته په تهذیبي،فکري او فرهنگي بدلون کې ناکامېږي او د کومو نظریاتو او عقایدو د ترقي لپاره چې جنگیدل په خپلو لاسونو دغه نظریات او عقایدختموي.د حضرت محمدﷺ په قیادت کې چې کوم تنظیم (اسلامي امت )جوړ شوی ددې کمال دادی چې د سیاسي بدلون تر څنگ د فکري او فرهنگي بدلون استعدادهم په کې شته دی، ددې بدلون لپاره چې د کومې لوړې درجې افراد پکار وه هغه ټول په دې تنظیم کې موجود وو او د ژوند په هېڅ اړخ کې هم دا محسوس نه شوه چې دوی په خپل فکر او نظر کې ناکام دي. کله چې ددوی**

دعـوت کاميـاب او غالـب شـو نـو دا څرګنـد شـوه ددې تحريـک چلونکې يو ښه روزل شوي معلـم او ښـوونکی، د فيصـلو پـه وخـت کې قاضي، د بيان په وخت کې خطيب او شاعر، حکم چلونکی، او د چاروڅارونکی اوسمبالونکی، د مجاهدينو قوماندان ،د فوځ سـپه سالار سفير او ترجمان ،سياستدان او حکمران بلکـه پـوره ډلـه او جماعت دی چې د دعوت هره اړتيا پوره کولی شي. دا طريقـه چـې محمدﷺ د دعوت لپاره غـوره کـړې وه پـه دې طريقـې سره داسـې امت تيار شو چې د ژوند په هـر اړخ کـې مـنظم او متحـد ؤ او کلـه چې نبيﷺ د دنيا څخه رحلت وکړنو تـر ډيـر وخـت پـورې پـه امـت کې يوالی اواتحاد موجـود ؤ، نـړدې او لـرې هيوادونـو تـه د اسـلام دعوت او بلنه ورسيده او عملي جهاد هم روان شو،او چې د پرمخ تللي دنيا ډيره برخه د اسلامي حکومت تـر سـيوري لانـدي راغلـه، هر څومره چې وخت تيريده هغومره ددې امـت او تنظـيم کمـزوري زياتيدله تردی چې داسې وخت هم راغي چې امت شتون درلودخو هغه اتفاق او وحدت پکـې نـه وو، پـه داسـې حـال کـې نبـيﷺ پـه کراتـو تاکيـد کړيـدي چـې خلـک بايـد د تنظـيم او جماعـت سره تړاؤلري او يواځيتوب سـړي لـه اسـلام څخـه لـرې کـوي لکـه چـې فرمايي:

مَنْ خَرَجَ مِنْ الْجَمَاعَةِ قِيدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ.( رواه مسند احمد)

**کوم سړی چې د یوې لویشتي په اندازه له جماعت څخه جدا شي په تحقیق دې سړي د اسلام رسۍ له خپلی غاړي څخه وغورځوله.**

**د حضرت محمدﷺ تل دالارښوونه وه چې د مسلمانانو وړه ډله هم باید منظمه وي ان چې په ځنګل کې درې تنه هم وي باید منظم وي یو یي امیر او دوه نور یې غړي وي.**

**خواوس په میلیونونوخلک په امت کې موجود دي خوداسې بې اتفاقه ، متفرق او ګډوډ ته به وایې چې ددوی ترمنځ وحدت اویوالې هېڅ امکان نلري، وګورئ څرنګه په صفا ټکو کې یې فرمایلي دي:**

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :لَا يَحِلُّ لِثَلَاثَةِ نَفَرٍ يَكُونُونَ بِأَرْضِ فَلَاةٍ إِلَّا أَمَّرُوا عَلَيْهِمْ أَحَدَهُمْ وَلَا يَحِلُّ لِثَلَاثَةِ نَفَرٍ يَكُونُونَ بِأَرْضِ فَلَاةٍ يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ صَاحِبِهِمَا (مسند احمد:مسند عبدالله بن عمرو)

**نه دي جائز د هغو دري تنو لپاره چې په بیدیا کې وي (یعنی د نظم څخه پرته اوسیږي)پرهغوی لازم دي چې یو تن یي امیر او نور دوه یي اطاعت وکړي، کله چې مسلمانان یوموټی او یوه ښه**

**ډله وي هر څوک چې په دوی کې د بې اتفاقي اچولو کوښښ کوي نو د هغه سر پرې کړي سره له دی که د قوم سردار او مشر وي.**

عَنْ عَرْفَجَةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ :تَكُونُ هَنَاتٌ وَهَنَاتٌ فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يُفَرِّقَ أَمْرَ الْمُسْلِمِينَ وَهُمْ جَمِيعٌ فَاضْرِبُوهُ بِالسَّيْفِ كَائِنًا مَنْ كَانَ.(رواه مسند احمد في حديث عرفجة).

هر څوک چې ددې امت په یوالي او اتفاق کې ګډوډي او د بې اتفاقي اچوي نو د هغه سر په توره ووهئ هر څوک چې وي.

ښکاره خبره ده چې په پورته لارښوونو عمل ونه شو نو ځکه اسلامي ټولنه او اسلامي امت ګډوډ شو او د هغه ضرر څخه خوندی پاتې نه شو د کوم لامله چې په امت کې بې اتفاقي منځ ته راغله.

تاسې کله په دې خبره غورکړیدی چې د مسلمانانو په منځ کې اختلاف اچونکي کسان ولې د زغملو وړ نه دي چې د هغوی په توره باندې د وژلو حکم شویدی.

پدې خاطر چې اسلام د دنیا نظام په کومه طریقه او سیستم چلول غواړي دا هغه وخت امکان لري چې ددې منونکي متحد او منظم وي، که په دوی کې یوالی او اتفاق نه وي نو دا نظام هېڅکله نه شي چلیدلی او نه یې پاتې کېدلو امکانات شته ،هر څوک چې د مسلمانانو

د نظام او وحدت د ختمولو کوښښ کوي نو په حقیقت کې اسلامي نظام ټوټه ټوټه کوي.

تاسې ولیدل چې کله په امت کې اختلاف راغی نو په هغو ځایونو کې چې اسلام غالب اوبرلاسی ؤبیرته مغلوب شو، دوهم زیان اوتاوان داشو چې اسلامي امت د دعوت کار پریښوده اوپه خپلولانجوکې اخته شول چې بیا وروسته ددعوت کار شروع شو خو ډېرو خلکو په انفرادي توګه د دعوت مسئولیت سرته ورساوه یا وړو وړو ټولګیو د دعوت کار کاوه خو هغه نتیجه یې ورنکړه چې بایدورکړی یې وای. که ټول امت په تمامه معنې یعنې که د امت ټول غړی د د عوت کار شروع کړي نو واقعا چې هغه زوړ برم او حالت ته به ورسیږي چې مخکې ؤ او مونږه نن هم په هغه حالت فخراوویاړ کوو.

کله چې د امت وحدت،یوالی اوتنظیم خراب اوګډوډشو نو د ښه کېدلو لپاره یې سمه طریقه وه چې امت بیرته  خپل پخواني حالت ته زرترزره راګرځیدلی وای او د دعوت کار یې پیل کړي وای خو افسوس چې داسې ونه شول څه کوښښونه وشول خو هغه هم بریالی نشول.

ددې اسباب او علتونه چې هر څه وه خو د امت هغه حالت نه وو کوم چې له نبيﷺ څخه را پاتې وو او د هغې دساتلولپاره یې تاکېد کړی وو، د کومو کسانو سره چې د امت د ښه والي اوسموالی احساس شته، ددې کسانو ذمه واري او مسئولیت دادی چې اول خپل ځانونه

منظم کړي او د هغه مقصد لپاره منظم شي چې صحابه کرام د محمدﷺ په قيادت کې منظم شوي وو او دا کار او فعاليت يې کاوه،ددې څخه وروسته د امت افرادو کار دادی چې د امت وړې وړې ډلې متحدي او منظمي کړي او د پورتني مقصد لپاره کوښښ وکړي .که په سمه معنې د اسلام د غلبې او ترقي لپاره دا کار وشي نو دا لرې خبره نه ده چې په دنيا کې به هغه انقلاب او بدلون راشي د کوم بدلون او انقلاب مثال چې څوارلس سوه کاله مخکې ليدل شوې وه.

ما ذلک علي الله بعزيز

د امير المؤمنين حضرت عمر رضي الله عنه فرمان دي.

فَقَالَ عُمَرُ : يَا مَعْشَرَ الْعُرَيْبِ الأَرْضَ الأَرْضَ ، إِنَّهُ لاَ إِسْلاَمَ إِلاَّ بِجَمَاعَةٍ ، وَلاَ جَمَاعَةَ إِلاَّ بِإِمَارَةٍ ، وَلاَ إِمَارَةَ إِلاَّ بِطَاعَةٍ(دارمي: في باب ذهاب العلم)

له جماعت څخه پرته اسلام نشته او جماعت پرته له امارت څخه نشته او امارت پرته له اطاعت څخه نشته.

## د دين د پلی کولو کوښښ فرض عين دي.

دا غلطه خبره ده چې خلک وايي د دين د نافذولو کوښښ کول فرض کفايي دی، حال دا چې داکار هغه وخت فرض کفايي بلل کېږي چې چا په خپل هيواد کې دين نافذ کړی دی ، د دنيا د کافرو له لوري هم په دوی د حملې ويره نه وي او دا هم وي چې په شاوخوا علاقو او ملکونو کې د دين د نافذيدلو کوښښ روان وي،په داسې حالت کې که کومه ډله دا کوښښ کوي نو په نورو خلکو بيا دا کوښښ فرض کفايي دی او معامله بيا د جنازې د لمانځه پشان ده.

او که دين يې په خپل هيواد کې مغلوب وي او د الله جل جلاله دشريعت احکام نه منل کېږي، منکرات ، فحش او ناروا کارونه په ښکاره توګه سرته رسيږي او په حدود الله باندې عمل نه کېږي.

يا يې په خپل هيواد کې کاملاً شريعت نافذ وي يعنې هيواد دارالاسلام وي خو په دې دار الاسلام د کفارو له طرفه د حملې ويره وي نو په داسې حالت کې د دين د نافذولو کوښښ فرض عين ګڼل کېږي او هر هغه سړی چې د توان سره سره د دين د حفاظت او اقامت کوښښ نه کوي او ځان ساتل غواړي د نو دغه شخص ګنهګار ګڼل کېږي.

## د ديني دعوت اصول او آداب

هرچېرى چې په قرآنکريم او احاديثو کې د ديني دعوت حکم ورکړ شويدى هلته د هغې اصول او آداب هم بيان شويدي ،ډير خلک ددېني دعوت کار کوي خو د هغې د اصولو او ادابو څخه نا خبره وي يا خبر وي خو د هغو مراعات او د عملي کولو اهميت ورته څرگندنه وى حال دا چې د ديني دعوت حق په هغه طريقه اداء کېداى شي کوم چې په قرآن اونبوى حديثو کې بيان شويدي او ددغو اصولو څخه پرته که سړى شپه او ورځ خلک ددېن لوري ته رابولي او په دې دعوت کې ډير تکليف هم وزغمى سره لدې هم دغه شخص ته کامياب داعي نشي ويل کېداى بلکه ددې ديني دعوت له اصولو څخه پرته ددې خبرې ډيره ويره شته چې د دين د خدمت پر ځاى د دين ډير زيان اوتاوان هم وشي چې د هغي جبران او تلافي به ډير وخت واخلي.

د ديني دعوت په هکله چې داعي ته کوم اصول عملي کول اړين دي په هغه کې د ځينو تړاؤاواړيکې له دعوت سره دي او د ځينواصولو تړاؤاواړيکې د هغه چا سره دي چې دعوت ورکول کېږي (مدعو)او د ځينو تعلق بيا د دعوت ورکوونکي(داعى) سره ده چې مونږ په ترتيب سره هغه بيانوو:

## د ديني دعوت ډولونه

## دين د هر چا لپاره دی.

الله جل جلاله دين ددې لپاره راليږلی چې هر سړی دا دين په خوښه سره عملي کړي، دا دين د چا شخصي ملکيت او ميراث نه دی بلکه د هغه چا ميراث او ملکيت دي چې قبول يې کړي او ويې مني.

ددې له امله د دين دعوت بايدعام او د هر چا لپاره بلکې د ټول بشريت لپارو ي، هر داعي ته دا آزادي لري چې يو فرد يا يوې قبيلې ته لومړې دعوت ورکړي او وروسته بيا بل فرد او قبيلي ته ،يعني مخکې او وروسته دعوت ورکول يوې ډلې او بلې ډلې ته پروا نه لري خو دا هيڅ مناسبه اوغوره خبره نه ده چې دې دعوت ته د يوهيواديايوې قبيلې د تحريک حيثيت او شان ورکړي ،يا داسې طريقه اولاره اختيار شي چې خلک فکر وکړي چې دا دين د يوې خاصې طبقې، د ځينو خاصو ډلو او خلکو لپاره راغلی دی يعنې ددې دعوت په لړ کې داسې شرايط او حالات برابر نه شي چې زيات خلک ددې دعوت له ګټو ځخه محروم اوبې برخې پاتې شي چې داسې حالت په حقيقت کې ددې دعوت تحريف او بدلول دي، بلکه په انسانانوباندې ظلم او زياتی هم دی، يو فرد يا يوه لويه ډله د الله جل جلاله د دين څخه بې برخې اولرې ساتل د يو فرد او يوې ډلې د وژلو څخه زياته ګناه او جرم دی ځکه چې په وژلو سره فرد ياډله له ژوند څخه محروميږي خو له دين څخه محرومي ابدي هلاکت اوتباهي ده.

خو افسوس چې ديني خلکو له ډير وخت راهيسې داسې سلوک اورويه اختيار کړې چې دنيا هم دادين ددوی خاص اوځانګړی دين بولي داځکه چې دا ديني خلک د خپلې ګټې او تاوان په اساس فکر کوي، آن چې که ددين تبليغ هم کوي نو خپلو ملګرو او خپلې ډلې ته يې کوي، داسې فکر کېږي چې دالله دين يواځې دهمدوی لپاره راغلی دی او دبل چا پکې هيڅ برخه نشته.

ددين د داعيانولومړنی کار دادی چې دا دعوت ټول بشريت ته په داسې توګه يا په داسې طريقه وړاندې کړي چې هېڅوک دا فکر و نه کړي چې دا دعوت ديوې خاصې ډلې يا قبيلې سرمايه ده، بيا په ټول ژوند کې بايد داسې سلوک او رويه اختيار کړي چې ددې نړيوال دين د داعيانو لپاره مناسب او لازم وي.

يعنې نه د چا بې ځايه تائيد وکړي اونه د چا مخالفت، بلکه هر څوک چې په حق ؤ که هغه هر څوک وي بايدپلوي او ملګرتيا يې وکړي،اوکوم انسان چې په باطل باندې دی له هغه څخه بيل شي که هغه يي هرڅومره نږدې خپلوان هم وي.دهغه دوستي او دښمني بلکې هر څه د الله جل جلاله د دين په خاطروي او هيڅ ځواک يې ددې پاليسئ څخه وانهړوي.

## دين د ژوند نظام دی.

الله جل جلاله غواړي چې انسانان په خپل ټول ژوند کې هغه لاره اختيار کړي چې الله جل جلاله ته غوره اوخوښه ده او د همدي لپاره يې انبياء عليهم السلام او خپل دين دنيا تـه راليږلـی دی خـو لـه ډيـر وخت څخه مسلمانان دين داسې وړاندې کوی چې ګوندې دادژوندسره هېڅ اړيکې نلري اودځومافوق الطبعی نظرياتوټولګه ده. يعنـې دټـولنې دسياست،تمدن،کلتوراواقتصاد سره ددې دين هېڅ تړاواواړيکـې نشـته لکه چې د باسواده او علمي طبقې خلکـو پـه بحثونـو کـې هـم دا خـبره کمه پيداکېږي چې الله جـل جلالـه د انسـانانو څخـه څـه غـواړي او د هغه جل جلالـه رضـا څنګـه حاصـليږي خـو دا خلـک پـه دې بـې ځايـه بحثونو کې وخت تيروي لکه:روح اول پيدا شوی او که جسم.

ښـکاره خـبره ده چـې پـه داسـې بحثونـو کـې د ډيـرو کمـو خلکـو دلچسـپي وي او د چاچې ورسره دلچسـپي هـم وي دا موضـوع ورتـه د بحث وړ ښکاري خو پـه عمـلي ژونـد بانـدې ددې بحثونو هـېڅ اثـر نـه پريوځي.

عام ولس نودهغوی لپاره دغه بحثونه بې ګټـې دي ،دا د علمـي او خاصو خلکو حال دی د عام ولس حال خو دادی چې د الله جل جلالـه د دين په هکله خپل ژبنی اوعملی تاثير داسـې بيـانوي چـې ديوځـوبی رحمه رسمونو او رواجونو په عملي کولو سره ددېن حـق اداء بـولي چـې

دېديني پيژندگلوۍ ددېن څخه هغه حسن او ښايست اودهغې فطري راښکون اوکشش تاسې هم ختم کړيدی.

ښکاره خبره ده چې د هر قوم سره د هغوی خپل رسومات وي هغوی دغه رسمونه داسې غوره گڼي لکه څنگه چې تاسې خپل رواجونه او رسمونه غوره گڼئ، ولي به دا خلک خپل رسمونه اورواجونه پريږدي او ستاسې به منئ پداسې حال کې چې هيڅ معقول دليل هم تاسی سره نه وي چې دوی ورباندې قانع شي.

په دې کې هيڅ شک نشته چې د الله جل جلاله کتاب (قرآن کريم) په خپل صحيح او اصل شکل کې زمونږ سره شته چې د هغې پواسطه انسانان په اسانۍ سره د الله جل جلاله دين معلومولی شي خوددې کتاب سره ددې منونکو رويه او عمل په دې لاره کې لوي خنډ دی.بې له غوراوفکرڅخه لوستل، په غم او ښادي کې ، او د چا د ځنکدن په وخت کې تلاوت او يا دمړو گناهونو د بخشش لپاره ورڅخه کار واخيستل شي او يا کوم مصيبت او تکليف چې راشي ورباندې دفع کړای شي نو ددې لوړو مقصدونو لپاره د دنياوالو سره څه صحيفی شته دي نو کتاب الله ته د څه لپاره مراجعه وشی اوله هغه څخه لارښوني واخستل شی؟.

څوک چې د دعوت کار کوي نو دوی بايدخلکوته داووايي چې د دنيا او اخرت کاميابي ددې کتاب له عملي کولو سره تړلې ده او که چېرې دوی دا خبره ومني نو بيا ددې خلکو ټول مسائل حل کېږي لکه څرنگه چې دوی ورته په تمه اواميدوه او که ددې خبرې اقرار ونه کړي او دغه رنگه عقيده ونه ساتي نو نه يواځي دا چې مسايل به يې حل نه شي بلکه تل به د اخرت تباهي او بربادي د دوی په برخه شي.

## د ديني اصولو دعوت

دين څه اصول لري چې له دغو اصولو څخه ځانگې اوله ځانگوڅخه ډيرتفصيلات وځی. کوم کسان چې د دين اصول مني نو هغوی په آسانه له دې تفصيلاتو څخه انکارنشی کولای.

او کوم کسان چې دا اصول نه مني په حقيقت کې مکمل او پوره تفصيلي نظام نه مني چې په دې بنياد باندې ولاړ دي، په همدې خاطر په دېن کې د اصولو ډير اهميت دياوپه هغی باندی ډيرتاکېدشويدی. جمله نيمگړتيا لري

په نږدی تيرشوی وخت کې چې ددېن کوم کاروان وه په هغې کې اصل اهميت اوارزښت فروعاتوته ورکړل شويدی او د دين له

اصـولوڅخه پـام اړول شـوی دی.پـه کومونظريـاتوچې ددیـن اسـاس اوبنسټ دی هغه له پامه غورځول شوی اوددېنی فروعاتوپه هـره برخـه باندی بی کچه خواري اوکوښښ شويدی چې په هغې باندې لوی لـوی اوپيړ،پيړکتابونـه لـيکلی شـويدي. د دنيـا خلکـو د اللـه جـل جلالـه لـه وجود او د رسول اللهﷺ له رسـالت څخـه انکـار کړيـدی او د الحـاد او دهريت عقايد او تهذيب او تمـدن،علم وفـن او د حکومـت او سياسـت په هره شعبه يي کې واکمنی اوبرلاسی ترلاسه کړی تـر دې پـورې چـې ډير ديندراه خلک يې په شک او تردد کې اچـولي او ډيـر خلـک ددېـن څخه اوښتي هم دي.

خـو زمـونږه د ديـن خادمـان او خـدمت کـوونکي ددې بريـداوحملی څخه ځان داسې په ځنگ کوی لکه چې د دين اساسي نظريات د دنيـا په هېڅ کنج کې هم د بحث لاندي نه دي راغلي او دهغـوی تـرمنځ بي په لکه د امين بالجهر او يا د رفع اليدين په جواز او عدم جـواز،بهتري او غير بهتري باندې بحثونه او جگړي کيږي.

کله کلـه دا بحثونـه گټـور وي خـوچې څـوک د اللـه جـل جلالـه او رسول اللهﷺ مني کله کله بياهمدابحثونه ايمان او عقيده کمـزوري او په شک کې اچوي چې بياهلته د اودس او غسل مسايل هم بي فايدي وي. دغه پراگراف بې ربطه دی

داخبره هم غلطه ده چې د دین خدمت کوونکې خلک ټول په داسې وړو وړو مسئلو کې نښتلي دي او د دین د بنیاد د ټینګولو کوښښ نه کوي حال دا چې په دې باره کې ډېر کوښښونه شویدي او ځینې د قدر وړ هم دي خو ددې سره سره لدې حقیقت څخه هم انکار نه شي کېدلی چې دا کوښښونه په اوسني وخت کې د فکري او علمي معیار څخه ډېر کم دي او په دې کې هغه سامان او وزن نشته چې ذهنونه او فکرونه مطمئن اوډاډه کړي. اوس چې د دین د دعوت لپاره کوم کوښښ کېږي په دې کې داسې کمزورئ لري کولوته ډېره اړتیا ده لومړې باید دا نظریات قوي شي په کومو نظریو چې دین ولاړ دی او بیا فرعي مسایلو ته هومره د اهمیت په سترګه وکتل شي څومره چې دین ورته اهمیت ورکوي .په حقیقت کې ددې فرعي مسایلو چې کوم حیثیت دی له دې څخه نه کمول پکار دي او نه له خپل ځان څخه زیاتول پکار دي.

که چېرې غواړي چې د یو کس په ذهن کې ددېن دبنیادی اصولو لهکلکوالی څخه پرته هغه په تفصیلاتوقانع اوډاډه کړی نودا هسې وخت ضایع کول دی او ددې معنا به دا وي چې تاسې بې بنیاده عمارت جوړوئ چې دهوایوڅپه یې ړنګولی شی.

## د دیني روح د پیداکولو کوښښ

يو د دين روح دی او بل د دين ظاهري شکل اوصورت، د دين روح دا دی چې په انسان کې د الله جل جلاله د تابعدارئ او عبادت جذبه پيدا شي او هغه د الله جل جلاله د هرحکم منلو ته اماده اوچمتو شي.

د دين ظاهري شکل هغه شرعي نظام دی چې د انسان د ټولو عملونو لپاره ځانګړي اصول او مقررات وضع کوي.

د ديني دعوت کار هغه وخت په سمه توګه سرته رسيږي چې د دين دظاهري شکل پرځای په روح باندې ډير کوښښ وشي ځکه کله چې ديني روح را پيدا شي نو انسان پخپله کوښښ کوي چې د ژوند ټول کارونه د الله جل جلاله له رضاسره سم سرته ورسوي، خوکله چې په انسان کې ديني روح نه وي پيدا شوی نو ګام په ګام له دين څخه دګرځيدلو خطرشته. له دې څخه يو نقصان او تاوان دا پيداکيږي چې کله ته وغواړي يو سړی د شريعت په يوه برخه عمل وکړي نو دا به ورته آسانه وي خو که ددې خبرې ورته وويل شي چې د شريعت په بله برخه عمل وکړي نو دا ورته ډيره ګرانه تماميږي. تاسې که ورته د شريعت د عملي کولوتلقين و کړئ نو په خوشحالی سره ورباندې عمل کوي خو ددې سړي سره به په نورومعاملاتوکې ددين دغوښتنومعلومولوهيڅ فکرنه وي.

لکه څرنگه چې ليدل شويدي په چاچې ددېني روح دپيداکېدوڅخه پرته دڅوځانگړوعملونودکولوتمرين کېږي نوهغه انسان داکارونه نه پريږدي خودبې شميره مهمواوضروري ديني مسايلوڅخه به ناخبره اوبې پرواوي لکه چې له سره ده ته حکم نه وي شوی.

## د دعوت مخاطبين

ديوداعي لپاره ترټولولومړی دمدعو(رابلوونکی) ذهنيت او ميلان معلومول اړين دي چې آيا دا سړی زما دعوت قبلوي او که يې ردوی ، ددعوت منل اونه منل يې په کومه درجه اوڅه ډول دي؟ ترڅوپوري چې داڅرگنده نشي ددعوت کارپه سمه توگه نه شي کېدای.

## د دعوت د مخاطبينو ډولونه:

د ديني دعوت په وړاندې د ټولو انسانانو غبرگون يو شانته نه وي، ځينې خلک پخپله ددېن لپاره کوښښ کوي خو چې هر وخت دوی ته

د دين دعوت ورسيږي نو سمدستي ورباندې عمل کوي لکه تږي سړي ته چې اوبه پيدا شي او تږی سړی د اوبو پيدا کولو کوښښ کوي.

دا خلک د خپل سالم او ښه فطرت په خاطر د الله جل جلاله له دين څخه پرته بل دين نه مني اوکله که د اسلامي دين څخه پرته د بل چا تر اثر لاندې راشي نو سمدستي د هغه په زيان او غلطۍ پوهيږي او هغه په سپکاوي سره ردوي.

د داسې خلکو په دعوت کې داعي ته هېڅ دول ستونزې نه پيداکيږي کله چې هم ورته داعي دعوت ورکړي نو سمدستي دعوت مني،ځينې کسان ددېن سره اختلاف کوي خو ددوی اختلاف اصولي او فکري مخالفت نه وي، بلکه هغوی دين مني خو ددېن حقيقت ورته چا ځرګنداو تشريح کړي نه دی،کله چې دوی ته دين په ښه توګه تشريح شي نو بيا حتماً دين مني او په دې لاره کې چې هر مشکل وي هغه له منځه وړي. هغوی ددېن په لوري داسې ورځغلي لکه څرنګه چې مور ته ورک شوي بچې پيدا شي هغه ډېره خوشحاليږي او بچې له خپلې سينې سره لګوي. دا د داعي وظيفه ده چې داسې خلکوته د دين حقانيت تشريح کړي خوداسې لهجه اوژبه استعمال نه کړي کومه چې منطقيان يې استعمالوي اودمقابل لوري ژبه بندوي، بايدپه داسې طريقه د دين دعوت وچلول شي چې

مخاطب متوجه او دعوت ومني،نه دا چې له ډيرو خبرو څخه ستومانه او بالاخره په تيښته مجبور شي.

څوک چې ددين داعي اوبلوونکې وي دهغه لپاره داډول طريقه سمه اوصحيح نه ده اونه دالله پاک دين دې ته اړتيااواحتياج لري،هغه بايدداسې رويه،سلوک اوطريقه غوره کړي چې دمدعوزړه،ذهن اودماغ ډاډه کړي اوهغه بې اختياره په شوق اوذوق سره دالله پاک ددين په لوري وروځغلي.

ځکه چې د اسلام ددين ټولو کائناتو او انسانانو له فطرت او مزاج سره برابر دين دی، تاريخ گواه اوشاهد دی چې کله هم دين انسانانو قبول کړی او منلی دی نو هغوی الله جل جلاله کامياب کړيدي او چې چا نه دی منلی هغوی د الله جل جلاله په عذاب اخته شويدي که په دې هکله هيڅ پوه او معقول انسان ددې ډول استدلال مخالفت نه شي کولی، د دعوت مخالفت کول د ځينو کسانو له لوري په معقوليت نه وي ولاړبلکه ددوی د مخالفت ترشاسپک اوذليل علتونه وي.

داخلک ددين مخالفت پدی خاطرنکوي چې هغوی ته ندي رسيدلي بلکې پدې خاطرمخالفت کوي چې هغوی يې منلوته تيارندي.

د داسې کسانو په منځ کې داعي تر هغه وخت پورې خپل دعوت چلوولي شي تر څو پورې چې ددې کسانو دمخالفت علتونه اواسباب نه

وي راڅرگندشوي خوکله چې هغه راڅرگندشول نوداعی بایدپری خپل وخت ضایع نکړي هغه چاته مخ واړوي او ورته متوجه شي چې د دعوت د قبلولو هیله اوتمه ورڅخه کېږی.

ځیني کسان په حقیقت کې د دعوت سره مخالفت نه لري خو ددې دعوت چې کومې غوښتنې دي له هغو څخه ناخبره دی او هغه نشيـ پوره کولای نو د داسې کسانو سره د اوږد بحث پرځای هغوی ته یوائې ددین غوښتنی بیانول پکار دي چې ددین له منلو څخه وروسته د دین غوښتنې عملي کړي او د دین له غوښتنو څخه مخالفت او انکار ونه کړي.

ځیني مخاطبین اومدعین د دین د غوښتنو څخه ناخبره وي ددې کسانو لپاره همدومره کافي ده چې د دین غوښتنې ورته بیان شي.

ځینې خلک د دین دحقانیت سره بالکل موافق وي خو عملاً له دین سره نه یوځای کېږي د داسې خلکو لپاره باید داعي له تشویق،ترغیب اوترهیب څخه کارواخلي اوهغوی په دین باندې دعمل کولودغوره پایلواودنه عملی کولوپه صورت کې دبدوپایلوڅخه خبر کړي.

له ځینوخلکوسره داعی په مسئلو بحث کول غواړي خو دا بحث باید د مناظرې حیثیت ونلري بلکه دا بحث بایدد پوهولو لپاره وی

ځکه په مناظره کې مخاطب اومقابل لوری د مخالف او دښمن په حیث ګڼل کېږي دهغه هره خبره رداوځوابيږي سره له دې که کلمه هم وايي داعي اوبلوونکي هېڅکله داسی رویه نشی۔ غوره کولی اونه يې باید غوره کړي،بلکې هغه باید د حق منوونکي په توګه په هرګام کې خپله دنده سرته ورسوي،د مدعو او مخاطب سره چې څه برحق وي هغه بایدپه خوښۍ سره حق ومنۍ اوڅه چې غلط اوباطل دي هغه په حکمت اوزړورتیاسره ردکړي،په یوه حکمت اوتدبرسره دهغه دذهن اوفکرداصلاح اوسمون کوښښ دې وکړي.

(۱)په لوړه کچه ددعوت لپاره شرایط برابر کړي.

(۲)خوهمداستونزې اومشکلات دانسان استعداد راشکاره کوی که چېرې په داعي کې دیني پوهه هوښیاری اوزیرکتیا نه وي نو بیا د داعی مقام اودرجه نلري بلکه د دعوت د کار کولو لپاره ډیره پوهه او د نفس پاکوالی پکار دی. دا جملې بې ترتیبه دي له اصل سره دې وکتل شي

## د قوم مشرانو ته خطاب

ددعوت په مخاطبیونو کې ځیني خلک داسې وي چې ډیر کسان په دوی پسې ځي او دوی د هغوی قائدین او مشران ګڼل کېږي که داعي داسې فکر وکړي چې د الله جل جلاله دین دغو قائدینو او

مشرانو ته باید ورسول شي دا ډير ښه فکر دی خو دا به عملاً آسان کار نه وي ځکه چې د داعي صلاحيت محدود وي اوهغه په يوه ځانګړې دايره کې کارکوی،اوس نوداعی. جمله نامکمله ده

په دوه طريقو سره داعي د دعوت کار سرته رسولی شي.

۱-لومړۍ طريقه داده چې مشران پريښودل شي اوعام ولس دعوت کړای شي.

۲-دوهمه طريقه داده چې اول دخلکومشران اوقايدين دعوت کړاي شي او په دې مشرانو سربېره چې څومره عام ولس ته دوی خپل دعوت رسولی شي بايد چې د رسولو کوښښ يې وکړي. دا دوهمه طريقه د انبياء عليهم السلامو طريقه ده چې انبياء عليهم السلامو لومړی د خپل قوم مشران دعوتول او په دې به يې خپل ټول قوت استعمالوه ځکه چې که دقوم مشران په دين باندې پوه شي او عمل پری وکړي نو د ډيرو نورو کسانو لپاره به دهدايت وسيله شي که دغو مشرانو خپل ټول صلاحيت اواستعدادپکار واچاوه نو د دين د دعوت لپاره دومره کار کولی شي چې د لاندې طبقې ډيرو خلکو دغه کار نه شو کولی پدې توګه به دداعی کارپه څومياشتواوورځوکې پوره شی اوترڅوپورې چې دعوت د ټولني په لويانو اثر ونه کړي نو په ټولنه کې نه شي عملي کيدلی.

په انبياء عليهم السلامو کې د دعوت ډير زيات قوت او صلاحيت وي په همدې خاطر هغوی د قوم مشرانو او سردارانو ته په آسانی دعوت ورکولی شي،اوبريالی کېدی هم شي په اوسني وخت کې چې کوم امت دا کار کوي په ځينو کسانو کې دا لوړاستعداد ډير ليدل کېږي او په ځينو کسانو کې لږه ځينوته داچې موقع او زمينه ورته د مشرانو د دعوت لپاره ښه برابره وي او ځيني داسې کسان شته دي چې د مشرانو د دعوتولو زمينه ورته برابره نه وي، په چا کې چې څومره استعداد وي او د دعوت زمينه هم ورته برابره وي بايد له موقع څخه ګټه واخلي او خلکو ته دعوت ورکړي،بايد خپل ځان ورته کمزوري ښکاره نه شي بلکه د خپل ځان په هکله داسې فکر وکړي چې له ده سره حق دی او الله تعالی دده ملګری دی او چې څوک د دعوت مخالفت کوي په حقيقت کې ډير کمزوری دی سره له دې که په ظاهري لحاظ ډير قوي ښکاري. په همدې خاطر داعي بايد د خپل دعوت لپاره دلته جمله نامکمله ده(١) او چې کله ورته د دعوت زمينه برابره شي بايد سمدستي دعوت ورکړي اوهېڅ ډول شک اوتردد بايدورته پيدانشي. ددې کار په کولو کې اول ډير مشکلات راځي اوالله جل جلاله خپل سفير او داعي بي کومکه نه پريږدي حتماً د داعي سړي کومک او مدد د الله جل جلاله له لوري په سختوحالاتواوشرايطوکې هم کېږي. کله چې داعي عامو خلکو ته

دعوت ورکوي نو ډيرې ستونزې ورتـه نـه پيـدا کېـږي خـودده اسـتعداد پکې پکې نه راڅرګنديږی اوهغه شايد الله جل جلاله ته ډيـره زاری او عاجزي ونکړي لکه څنګه چې په مشکلاتو کې يي کوي.

## د دين داعي

د ديني دعوت  کاميابي او ناکامي د داعي په دوه اړخونو پورې هم تړاولري،لومړی دا چې داعي د کوم شي دعوت ورکوي هغه يې څـومره جذب کړيـدي، اوداعـي د دعـوت لپـاره کومـه طريقـه او اسـباب غـوره کړيدي؟ دوهمه دا چې د مخاطب سره هغه کوم روش ،عمـل اوسـلوک غوره کړيـدی؟ څکـه هرڅـومره چـې د مخاطـب سره داعـي ښـه اوغـوره رويه اوسـلوک غـوره کـړي هغـومره مخاطـب د ديـن لـوري تـه رانـږدې کېږي او هر څومره چې د داعي سلوک او رويه غلطـه او کمـزورې وي هغـومره مخاطـب لـه دعـوت څخـه لـرې کېـږي، مـونږه پـه دغـه دوه اړخونوباندې رڼا واچوو.

## د دعوت څرګند تصور

د ديني دعوت لپاره له هر څه نه مخکې دا ضروري ده چې د هغـې په هکله دداعـي خپـل فکـر اوذهـن صـفا او جـوړ وي، داعـي تـه بايـد

معلوم وي چې دين څه شی دی او ولې د دين دعوت خلکو ته ورکول کېږي؟ او د دعوت مقصداوهدف بايد هر وخت دده مخې ته وي او دهغې له غوښتنو څخه هم پوره خبر وي،اوپه دې هم پوره پوه وي چې کومه طريقه د دعوت لپاره سمه او کومه طريقه د دعوت لپاره ښه نه ده،کله چې دداعي ذهن په دی هکله پاک نه وي مخکې تلل خوځه کوې حتی هغه بيا چا ته وړاندې کولی هم نه شي، يقيناً چې داسې دعوت بيا ناکام وي ځکه چې خپله داعي په دې نه دی خبر چې څه غواړي او ولې يې غواړي؟

## څرگند او اغيزمن بيان

انسانان په ډيره بې پروايي اوغفلت کې پراته دي تر څو پوري چې دوی ونه خوځول نه بيدارېږي،داعي بايددعوت په ډير قوت او پوره جذبه سره وړاندې کړي اوداسې طريقه،رويه اوسلوک غوره کړي چې د سړي ويده شوې فکر او ذهن ويښ کړي او د مخاطبينو په ولولواواحساساتوکې حرکت راولي،مړ پړاودفيلسوفانوپه څيرمړژواندی دعوت هېڅ اثر نه لري اونه ورباندې د دعوت حق پوره کېږي ،داعي بايد ښکاره او صافه ژبه استعمال کړي،ترڅودده د اورېد بيان څخه وروسته خلک ونه وايي چې دا څه غواړي او ددې سړي مقصد څه دی؟ دا يوه مجهوله لهجه ده او دا د داعي سړي بيان نه بلل

کېږي،ګډوډبيان او خبره يا داسې لغات استعمالول چې خلک ورباندې پوه نشي يا بيان دومره اوږدول چې خلک تنګ شي يا داسې لنډ چې مقصد پکې ښکاره نه شي دا د داعي د مقام او شان څخه ټيټ اودهغه په لاره کې لوي خنډدی.

په صفااو ښکاره کلماتواوټکو خپل مقصد بيانول او په داسې طريقه بيانول چې مخاطب له هغه څخه سمه ګټه او فايده واخلي،که بيان ناڅرګند،ګډوډاوپيچلی وي نوهغه تاثيرله لاسه ورکوي اوخلکوته دهغی قبلول آسانه کار نه وي.

## د حلالو وسايلو غوره کول

د ديني دعوت لپاره بايد هغه طريقه غوره کړي چې دين اجازه ورکوي،دين د حلالو او حراموکوم حدوداوپولی بيان کړي دهغی منلواوپام کې ساتلوڅخه پرته ددې کارد کولو اراده هم ګناه بلل کېږي .د خدايجل جلاله دين دې ته هېڅ اړاومحتاج نه دی چې د حرامو وسايلو په واسطه خپور شي.

هغه څوک چې له يوې خوا ددېن حلال حرام اوحرام حلال کړي او بلي خوا ته د دين د نافذولو ګټې بيانوي نودايا لوی جاهل او

ناپوهه انسان دی او یا لوي منافق دی ځکه چې په غلطه طریقه دین ته فایده رسول هېڅ امکان نلري.اودا پخپله غلطي ده او ددې یقیني تاوان شته، داکار هغه خلک کوي چې یا د دین ډېر لوی دښمنان وي او یایې عقل له لاسه ورکړی وي .

که تاسې د سود په مال د تبلیغ اودعوت اداره جوړوئ نوپه دې باندې د دعوت کار هېڅکله نه خپرېږي بلکې دین پرې رسوادوبدنامه کېږی. هغه خلک څومره بدبخته دي چې ددېن د خدمت او د الله جل جلاله د رضا کولو اراده اونیت ولري خوداسی طریقه او لاره غوره کړي چې دین ته وربادې تاوان رسیږي او شیطان وربادې خوشحالیږي.

## دیني مزاج په نظرکې ساتل

دیني دعوت ورکوونکې باید کاملاً د دین د حدودو پابند وي تر دې چې د حدودودپابندئ سره سره ددېني مزاج مراعات هم وکړي، دین یو خاص مزاج لري چې ډیر شیان د دغه مزاج سره مناسبت اویوشانته والی لري خو ځینې داسې شیان دي چې د دیني مزاج سره هېڅ سمون نلري.داعي باید هغه روش او طریقه غوره کړي کومه طریقه او لاره چې د دیني مزاج سره برابره وي او له هغو طریقو څخه باید ځان وساتي کومې چې د دیني مزاج سره مناسبې اوبرابرې نه وي .که داعي هغه طریقه اختیار کړي کومه چې دین یې نه خوښوي نو ددین

عظمت درناوی اواحترام به ختم شي او داعي به د خلکو پـه نظـر کـې داسی سپک ښکاره شي چې هېڅوک به یې خبرې تـه غـوږ ونـه نیسي- .که دداسې دعوت په نتیجه کې څوک دین ته نږدې شي نونـه یـواځی داچې د دیني اعمالو لحاظ به نه کوي بلکه د دین پولې اوحدودبه هـم پایمالوي تر څو پورې چې داعي هغه ټولې لارې پرې نږدې کومې چې د دین سره مناسبت نه لري نو خلکو ته ددین اهمیت نه ښکاره کېږي، د دین اهمیت به هغه وخت خلکو ته ښکاره شي چې په داسې طریقـې سره د دیـن دعـوت وچلـول شي چـې مـزاج تـه یـې هـم هـېڅ ضرر ونـه رسیږي.

## د خلکو دچمتوالی لحاظ ساتل

داعي باید د دعوت دورکولو په وخت کې د خلکـو دذهنـی چمتـوالی لحاظ وکړي هغه وخت خلکو ته دعوت وړانـدې کـړي چـې د دوی زړه او دماغ دهغه خبره واوري ،فکر او غور کولو ته تیار وي،په داسې وخت کې باید هغه چا ته ددعوت لپاره ورنشي چې هغوی دعوت اوریدل نه غواړي.

د الله جل جلاله د دین څخه پرته بل داسې شي نشته چې په هغه سره د خلکو زړونو ته ډاډ او آرام پیدا شي څوک چې د الله

جل جلاله له دين څخه بې برخې وي نو دده په ژوند کې ډير داسې حالت راځي چې دا سړی په دې ښه پوهيږي چې په کوم شي کې هغه اطمنان او ډاډ لټوي هغه ټول شيان باطل او د اعتبار وړ نه دي. داعي ته پکار دي چې پدغسې وخت کې په پوره حکمت سره خپل دعوت وروړاندې کړي،په داسې وخت کې بايدداعي د دعوت ښه طريقه غوره کړې ځکه چې پداسې وخت کې د دعوت منلو ډير امکانات شته،څرنګه چې د ځينو افرادو په ژوند کې داسې حالات راځي چې ددين دعوت په خپلو غوږونو اوريدلی شي .په هم دې توګه ځيني دالله پاک څخه نا خبره قومونه او ډلې هم له داسې حالاتو سره مخامخ کيږي چې د دين صحيح دعوت اوريدلی شي له داسې وخت څخه ګټه نه اخستل لويه سهوه ده داسې موقع بايد داعي له لاسه ورنه کړي اوتل بايد دداسی وختونوپه لټه کې وي.

## چا ته ګمراه او کافر ونه وايي

داعی دبې شميره بې لارې خلکو په منځ کې د دعوت کار کوي او که چيرې هغوی ته فاسق،ګمراه او کافر ووايي نو په حقيقت کې دغه الفاظ غلط نه دي خوهېڅ فايده د دغو ټکو له استعمال څخه نه ترلاسه کيږي بلکه د يوه ديني مصلحت اوضرورت په خاطر بايد له داسې ويلو څخه ځان وساتل شي ځکه دا دانسان دفطرت او طبيعت

دي چې کله ورته کافر يا فاسق وويل شي دا په خپل ځان باندې لوی تهمت ګڼي ددې له امله ويره شته که داعي دغه الفاظ استعمال کړي نو د اوريدونکوجاهلي تعصب به راوپاريږي او ددعوت د اوريدلو څخه به انکار وکړي.

## د تکبر او امرکولو څخه ځان ساتل

داعي بايد د نورو انسانانو څخه دداعی اومصلح په حيث ځان اوچت اوپورته ونه ګڼي او نه په داعي کې بايددخپل غوروالی فکرپيداشی ځکه چې دغه شيان داعي له ناکامي سره مخامخ کوي،کبر او غرور داسې اخلاقي ناپاکی ده چې ترلرې واټن پوری بد بويي خپروي اود هر روغ طبيعت خاوند متکبر سړي ته نژديوالی نه خوښوي،داعي بايد په دې خبره پوه وي چې په دعوت سره خپل مسئوليت پوره کوي، په دنيا کې د الله جل جلاله له دين څخه غافل او بې خبره خلک ډير شته نو داعي ته چې دا مقام اومرتبه ورکړل شوې دا د الله جل جلاله له لوري لوی احسان وګڼي او که چيرې داعي په صحيح معنا سره دا احسان وپيژني نو د الله جل جلاله شکر د اداء کولو په خاطر به تواضع اوعاجزی غوره اواختيار کړي.

داعي بايد خلکو ته امراوحکم په طريقه وينا ونه کړي ځکه چې حکم عموماً هغه چا ته کېږي چې هغه د لاس لاندې وي ،دداعي لپاره د يوه تن دين قبلول د دنيا او څه چې په دنيا کې دي له هغه څخه هم غوره دي، دا په حقيقت کې ډير لوی دولت دی او دا دولت هر څوک نشي ترلاسه کولايي بلکه هغه نيک بخت او دغوره قسمت خلکو ته په نصيب کېږي چې د هغوی په دعوت کې اخلاص ،زړه سوی،نرمي او رښتيا ويل موجود وي او د اجتماع او ټولني د اصلاح فکر ورسره وي.

## غوره اوښه اخلاق درلودل

داعي بايد ډير لوړ او ښه اخلاق ولري او د اوريدونکې لپاره داسې لاره غوره نکړي چې په ليدلو سره يې وتښتي اويامخالفت پيل کړي، خلک دده خبره واوري او دهغه لوري ته راټول شي، په عمومي توګه هغه خلک چې د دين خدمت کوونکي ګڼل کېږي په بد اخلاقۍ او تنګ نظري باندې مشهور وي، حال دا چې دغه کسان بايد ډير د ښو اخلاقو خاوندان وای ځکه چې دين د ښو اخلاقو تعليم ورکوي، داعي چې په ټولنه کې کومه بدي ووينې ددغې بدي يا بد اعمالي د ختمولو

لپاره بايد ډير ناکراره وي، خرابو انسانانو څخه کرکه کول او هغوى ته په سپکه کتل بايد ونلري، دا بايد له هغو کارونو څخه لرې اوکرکه کوونکې وي کوم چې دده په چاپيريال کې سرته رسيږي خو دا له دې کسانو سره بي اړيکو نه شي ځکه چې څوک د بد کارو انسانانو د اصلاح لپاره راوالاړ شوى وي بايدله هغوى سره اړيکې ولري ترڅودهغوى داصلاح اوسمون کوښښ وکړي اوکه داسې وي نو څوک به ددوى اصلاح وکړي،نو بيا په گناه کې پريوځي .دا بايد داعي له ياده ونه باسي کله چې فساد په ټولنه کې عام اوخپورشي د تقوا او نيکي لور ته د خلکو رغبت نه وي نو بيا په خرابو او غلطو لارو باندې تلل د انسانانو لپاره آسانيږي اوهغوى پکې معذوروي.داعي بايد ددغسي خلکو د عمل په لړ کې غصه ونه کړي بلکه د خير غوښتنې په بنسټ له دوى سره لاره ونيسى او که چېرې داعي دداسې غلطيو په مقابل کې د سړي سپکاوى وکړي نو ددې ويره شته چې ددې گنهگارجاهلي تعصب راوپاريږي او په خپله غلطي کلک پاتې شي، داعي ته پکار ده چې دخرابې او تيزې لهجې په بدل کې د نيک هدف لپاره خوږه لهجه او ژبه استعمال کړي تيزى بايد ونه کړي.

په دې باره کې آخرى اومهمه خبره داده چې داعي بايد تيزي ونه کړي ځکه چې سخت او تيز طبيعته سړى د دعوت حق نه شي پوره

کولی او داسې نیک بخته روحونه ډیر لږ وي چې د دعوت ورکولو سره سمدستي اصلاح شي او دعوت ومني او که داسې نه وي نو داعي به ټول عمر په دعوت کې تیر کړي خو ددې دعوت په سبب به په خلکو کې هیڅ بدلون را نه شي. نوکه داعي د خپل دعوت فایده او حاصل ژر لیدل غواړي نو پکار ده چې صبر وکړي،نا امیده نه شي او تل ددعوت کار وکړي تر دې پورې چې د الله جل جلاله دین په ټولنه کې عام شي او یاداچې داعي په دې لاره کې خپل ژوند له لاسه ورکړي.

د اسلامي تحریک دعوت د الله جل جلاله بنده ګان د الله بندګۍته رابلل دي چې دابندګي څه عادت،لمانځنه او رسم نه دی بلکه د ژوند له ټولولاروچارو او اړخونو سره تړاو لري چې دهغې اطاعت کول په انسان لازم دي اودژوندپه ټولوچاروباندې چې کله له الله څخه پرته دبل چاواکمني اوبرلاسي وي نوبیاد اسلامي تحریک مسئولیت دادی چې د انسانانو د ژوند د اصلاح لپاره داسې لارې چارې ولټوي اوډیر زیات کوښښ وکړي چې په ټولنه کې د بل چا واک، اختیارات او غلبه ختمه شي او د یو الله جل جلاله واک قایم شي، همدادده دعوت اوبلنه ده اوهمدا ددې ټولوهلوځلو او کوښښونو مرکز او محوردی.

## حکمت اوموعظه حسنه

پوښتنه: د حکمت او موعظه حسنه کوم کوم اړخونه دي چې بايد د دعوت ورکولو په وخت کې يې داعي په نظر کې ونيسي؟

ځواب: داماپه خپلو مخکې بيانونو کې په تفصيل سره بيان کړيدي، ښه داده چې تاسې دازماپه ليکلو کتابونوکې ولولئ.

خو زه تاسې ته دوه لنډې خبرې کول غواړم چې حکمت څه ته وايي او موعظه حسنه څه ته وايي؟

حکمت دادې کله چې تاسې د يو کار کولواراده اوعزم کوئ نو وګورئ چې په کوم وخت،کومه دوره اوکوموحالا توکې تاسې د ټولنې د خدمت او دعوت لپاره راپورته شوي ياست،دتحريک له نظره د ارزونې مقصداو هدف دادی چې تاسې د کوم کار لپاره راپاڅيدلي

یاستیٍ کوم کوم شیان په دې وخت اودوره کې ددعوت لپاره مرسته کوونکي اوګټوردي؟

دهغې تاسې پوره حساب اواندازه معلومه کړئ چې په کومه کچه اوله کومه اړخه مرسته کولا ی شئ،کوم شیان چې خنډدي دهغې ارزونه داسې وکړئ چې هغه څومره پراخه اووسیع دي،په کومه کچه خپاره شویدي؟ دهغې ترشاکوم کوم ځواکونه کارکوي،دهغې لرلیدڅه شي دي،له کوم ځای څخه راځي،دهغې مقابله څه ډول کېدای شي؟ همدې ته حکمت وایي.

څوک چې حکیم وي هغه ترټولودمخه داګوري چې دده دعوت به څنګه موثر واقع شي.اوآیادلته څه داسې پکاروړونکي شیان شته چې دده سره په دعوت کې مرسته کوونکي ثابت شي؟ نوحکیم لومړی داګوري چې آیا دا ټولنه له اسلام سره موافق ده او که مخالفه؟ یواځې د اسلام سره مخالفه نه ده بلکه د اسلام دښمنه ټولنه ده او داسې نورې پوښتنې.

څوک چې د اسلام سره په مخالفه او اسلام دښمنه ټولنه کې د دعوت کار کوي نو هغه به د ټولنې له حالاتوسره سمه طریقه اختیاروي او که یو داعي په داسې ټولنه کې د دعوت کار کول غواړي چې یواځې له اسلام څخه منکر وي خوددښمنۍ لاره یې نه وي نیولې

نـو دغسـې حـالا تـو کـې بـه بلـه طريقـه اسـتعماليږي،اوځوک چـې پـه مسلمانه ټولنه کې دعوت پرمخ بيايي هغه به جلا لاره غوره کوي.

هغه سړی به ډير ناپوهه وي چې په کمزورې اسلامي اجـتماع کـې چې څه نافرماني،بد اخلاقي او د ګناه کارونه ګوري نو دا فيصله وکړي چې په دې ټولنه کې د اسلام يواځې نوم دی بلکه ټوله ټولنـه د اسـلام څخه اوښتې ده او پدې فکـر داسـې دعـوت وچلـوي لکـه چـې پـه يـوه کافره ټولنه کې چې اړين دی.

او داعي بايـد پـه دې هـم پـوه شي چـې پـه دې اجـتماع کـې کـوم ځواکونه د اسلام په خلاف کارکوي؟ ددې غير اسلامي نظريو،فکرونو او فلسفوهدف اومقصدڅه دی؟ اودهغوی دفکربنسټ څه شی دی؟ پـه دې هکله معلومات اوارزونه ځکـه ضروري ګڼـل کـېږي چـې ددې غـير اسلامي کوښښونو مقابلـه کـول اړيـن اوضروري دي. مـثلاً يـو پهلـوان چې د بل پهلوان مقابله کوي نو دې پهلوان ته پکـار دي چـې د خپـل مقابل لوري په هکله پوره معلومات ترلاسـه کـړي، يعنـي هغـه پهلـوان څومره قوت، څومره وزن،اوپـه کومـه طريقـه مقابلـه کـول غـواړي کـه چېرې پوره معلومات ځانتـه ترلاسـه کـړي نـو وروسـته لـه هغـې مقابلـه کولی شي او که داسې نه وي نو خامخا به ناکاميږي.

له دې سره د حکمت غوښتنه داهم ده چې د چا مقابله کوي نو د هغه څخه زيات قوت اوځواک بايد درسره وي او داسې طريقه به اختياروي چې په آسانۍ سره د هغه مقابله وکړی شي اوزما له نظره د حکمت همدا معنا ده.

## موعظه حسنه

دوهم شی موعظه حسنه ده ،په موعظه حسنه کې د دوه شان په پام کې ونيول شي. لومړی دا چې د نصيحت،دعوت او تبليغ داسې طريقه غوره شي چې مقابل په ضداومخالفت کې ونه دريږي او په غصه نه شي، دوهم دا چې داعي بايد خپل مقصد داسې وړاندې کړي که چېرې په اوريدونکي کې لږ شانته د نيکي اراده هم وي نودعوت قبول کړي او که په مخاطب کې بده اراده موجوده وي نو پدې وخت کې هغه ته نوره هم دعوت موقع په لاس ورځي.په دې باره کې امام ابو حنيفه رح يو ځای ډېره په زړه پوری خبره وکړه:

امام ابو حنيفه په خپل دور کې لوي مناظر او متکلم ګڼل کېده اومناظرې به يې کولې هغه پخپله دا قصه بيانوي هغه :وايي (((چې زه به بصرې ته تلم او هلته به مې د مختلفو بې لارو ډلو سره مناظرې

کولې،وروسته بيا د هغه د زوی له علم کـلام سره مينـه پيـدا شـوه ، دا علم يې زده کړ او مناظرې يې د پلار پشان شروع کړې نو امام صاحب هغه له مناظرو څخـه منع کـړ، هغـه خپـل پـلار تـه وويـل چـې پـلاره! مخکې به تا پخپله له خلکو سره مناظرې کولې او اوس ما ددغه عمـل نه منع کوې؟ نو امام صاحب رح ورته وويل :مونږ چـې منـاظرې کـولې په دومره احتاط مو کولې که دچا پـه اوږه مرغـۍ ناسـته وي چـې وانـه لـوزی او مرغـۍ زمـا لـه نيولـو څخـه پـاتې نشيـ بلکـې زه هغـه مرغـۍ ونيسم، په دې ډول مونږ په ډيـر تاکيـد او احتيـاط سره علمـي بحثونـه کول))) ددغو مناظرو مطلب دا ؤ چې څومره ايمان په هغه کې موجـود وي بايد د هغه ايمان نورهم زيات شي داسې نه چې څه پکې وی هغه هم ختم شی. اوس ستاسې د مناظرې مقصـد داوي چـې مقابـل لـوری په سخت زړه سره ملامت کړئ چې کوم ايمـان د هغـه سره موجـود وي هغه هم ورسره ختم شي.

له موعظې حسنې څخه مطلب دادی چې د دعـوت او تبليـغ داسـې طريقه غوره شي چې مقابل لوری دين تـه رانـږدې شي او پـه ضـد يـې ونه دريږي،داسې ژبه او بيان استعمال شي چې خلک دين ته رانـږدې شي،په غصه او نفرت کې اخته نشي.

په موعظه حسنه کې دوهـم شـی چې بایـد مراعـات اوپـه نظرکـې وساتل شي هغه دادی چې داعي باید په دې پوه شي چې چاته دعـوت ورکوي؟ د هغه د گمراهۍ او بې لاریتـوب سـبب څـه وی؟ او ددې بـې لارې توب له امله ورسره څوک کومک کوي؟ نو له پوره معلوماتو څخه وروسته داسې طریقه غوره شي چې د داعي په بیان دمقابـل لـوري زړه او ذهن دواړه پوره متاثر شي او پـوره ډاډه شي، دا هغـه وخـت کېـدای شي چـې سـړی د اوریـدونکي لـه ټولـو حـالاتو څخـه خـبر وي اوخپـل اوریدونکی د دین لور ته د پوره دلایلو په بیانولو سره متوجه کړي اوکه هغـه پـه کـوم شخصیـ ضـداوورانۍ کـې اختـه وی نودهغـه ولـولې اواحساسات په نظرکې ونیول شي اوداسې لاره اوطریقه غوره شي چـې ددیـن څخـه مخـالف اوضداحساسـات یـې سـاړه اودیـن تـه مـیلان پیداکړي.

څـوک چـې د اللـه جـل جلالـه ددېـن کـار کـول غـواړي بایـد دوه صفتونه په هغه کې موجود وي :

۱-صبر ۲-حکمت

د صبر غوښتنه داده چې ستا د کار وړاندې چې څوک خنډونـه اچـوي د هغه په مقابل کې خپل نورمال او عادي حالت لـه لاسـه ورنـه کـړي او نه دومره خفه او ناراضه شي چې د خنډ اچوونکي هدف اومقصـدپوره شي

او له دعوت څخه لاس واخلي بلکه د خنډ له پېښېدلو وروسته سمدستي هغه رویه او طریقه غوره شي چې له حکمت سره برابره اوسمه وي.

حکمت دې ته وایي چې چې تاسې بایدپه پټوسترگوباندې په یولاره دتلوعادت اوخوی ونه لری بلکې داوریدونکواومقابل لوری د پوهولو هر ډول استعداد په تاسې کې موجود وي که یوه لاره وربانـدې بنده شي نو لس نورې لارې او طریقي باید په کار واچوی او خپل کار مخ په وړاندې بوځي اوپه چاکې چې حکمت نه وي نو د خنډ پیداکېدو سره سم کښیني او له کار څخه لاس واخلي او که سړی بې خبره وي نود خنډ له لیدلو سره سم یا ورسره په مقابله کې خپل سر ماتوي او یا د مقصد څخه تیریږي. او چې چا ته د صبر او حکمت صفتونه الله جل جلاله ورکړي وي د رواني ویالې په شان خپل منزل ته ځان رسوي سره لدې چې ډیر خنډونه یې مخې ته راشي او همدارنگه سیند په بل لور ته دخپل هدف په لور روان وي.

## تحریکي مزاج

پوښتنه:تحریکي مزاج،روحیه او طبیعت څه شي ته وایي او په کومو وسایلو جوړیدلی شي؟

ځواب: هرسړی دخپل ذات ترپولی پوری دخپل ژوندمقصداوهدف لري،که دغه سړی په ټوله نړۍ کې د خپل مقصد په خپرولو او نور خلک په خپل مقصد د پوهولو او له ځان سره دملګری کولو لپاره کوښښ نکوي نو دا سړی تحريکي نه بلل کېږي اوبل سړی داسی دی چې دځان لپاره يې يوه دژوندلاره اوطريقه غوره کړيده اوپه هغې کې په اخلاص سره کوښښ کوي نودا سړی تحريک اوخوځښت نشی چلولی.خوتحريکي مزاج ددې په خلاف دادی چې کوم شی هغه حق بولي اوحق يي ګڼي او دنيا وال دې حق ته رابولي او هغه څه چې ددې حق په خلاف اومقابل کې وي د هغې مخنيوی کوي ،د باطلې مفکورې او بې لارې توب د بندولو کوښښ کوي نو ويل کېدای شي چې په دې سړي کې تحريکي مزاج يا صفت پيدا شويدی. ځينې کسان داسې دي چې د هغوی مزاج او طبيعت تحريکي نه وي نوداسې کسان چې دتحريک کوم کاركوی نو حتماً يې خرابوي ځکه چې دا تحريک نه پيژني،دده طبيعت او مزاج ،اخلاق او عادتونه ددې تحريکي کارسره مناسب اوبرابرندي نوپه غلطه طريقه کارکوي چې بلاخره زيات تاوان منځته راوړي.

د تحريکي مزاج څخه مراد او هدف دادی چې سړی د حق د خپرولولپاره کوښښ کوي او د باطلو عقيدو ختمول غواړي نو دداسې شخص خوی او عادت بايد له مقصد سره برابر وي .که يو سړی تند

خویه اوسخت مزاجه وي نو ښکاره خبره ده چې دا به د تحریک کار ته نقصان رسوي، ددې صفت په مقابل کې که یو سړی د ډیر نرم طبیعت ، د هر چا عزت کوونکی اودښواوغوره اخلاقولرونکۍ وي نو دا د تحریک سره برابر صفتونه لري او که څوک تند او تریخ وي ،داعتراض او تنقید حوصله ونه لري او که ثوک دده د طبیعت خلاف خبره وکړي سمدستي ورسره جګړه کوي داسې صفتونو لرونکۍ د تحریک له مزاج سره برابر شخص نه بلل کېږي.

## د تحریکي مزاج د پیداکولو وسایل

پاتې شوه دا پوښتنه چې تحریکي مزاج اوطبیعت څنګه پیدا کېدلی شي؟

زما په نظر د رسول اللهﷺ د سیرت مطالعه کول ددې صفت د پیدا کولو لپاره ډیره ګټه لري څکه چې مونږ هغه کار غواړو کوم کار چې رسول اللهﷺ کاوه نو ددې له امله زمونږ لپاره رسول اللهﷺ بهترینه نمونه اومثال دی او د هغه سیرت او اخلاق څه ډول وو چې له مخالفت سره سره یې خلکومننه اواطاعت وکړ سخت او بدترین مخالفین رسول اللهﷺ ته تسلیم شول او د رسول اللهﷺ خاص دوستان او ملګري شول.

دوهم شی چې پکاريږي هغه د نورو انبياء عليهم السلامو د سيرت مطالعه کول دي کوم چې په قرآنکريم کې د هغو واقعات بيان شويدي، له قرآنکريم څخه پرته نور کتابونه او وسايل د انبياء عليهم السلامو د سيرت د بيانولو په هکله د اعتماداوباور وړ نه دي لکه څومره چې قرآنکريم د اعتماد وړ دی.

کله چې مونږقرآنکريم په غور سره تلاوت کړو مونږ ته به دا خبره ښکاره شي چې کومو کسانو ددعوت کار کاوه د هغوی صفتونه او عادات څه وه.د اصلاح اوسمون هغه تحريک يا تنظيم به کامياب وي چې د تنظيم او تحريک افراد کاملاً او پوره دالازمي اوضروري صفات په ځان کې پيداکړي،اوبياچې څوک له دوی سره شامليږي هغوی به هم دغه شان صفتونه اختياراوغوره کوي.

په نظم او تنظيم کې الله جل جلاله ډير قوت ايښودلی دی کله چې افراد په تنظيم کې شامليږی نو د تنظيم له مزاج سره سم هغوی هم ځان برابروی او سنبالوي پدې شرط چې شامليدونکي خلک ددې صفاتو دجذبولو او خپلولو جذبه،احساس اوولوله ولري،څوکه پدې کې داسې افرادشامل اوداخل شي چې داغوره اولوړصفات نشيـ جذبولی نوبيا ورو ورو دتنظيم بنيادونه اوبنسټونه کمزوري کيږي.

والسلام